التعليم فوق الجميع | education above all

# ښرخوونکی، ښرخوونکی

| | |
|---|---|
| **درجه** | دریمه درجه (عمر: له ۱۲ څخه تر ۱۴ کلونو پورې) |
| **د اړتیا وړ سرچینې** | ۳۱ داسې کارتونه چې شمیرې پرې لیکل شوې وي (۱۰۱ څخه تر ۱۳۰ یا له ۵۱ څخه تر ۸۰ پورې او یا هم له ۱۵۱ څخه تر ۱۸۰ پورې)<br>ښرخیدونکې وسیله (چرخه)<br>قلمونه<br>هرهغه کم وزنه (سپک) شی چې د ښرخیدلو وړتیا ولري. د بیلګې په توګه: قلم، لښته، د جوس پیپ او داسې نور. |
| **د منابعو لپاره بدیلې عملیې** | زده کوونکي کولی شي د شمیرو لرونکي کارتونه په لاندې توګه چمتو کړي:<br>1. هغوی باید ۳۱ داسې کاغذونه پرې کړي چې پلن والی یې د څلورو ګوتو او اوږدوالی یې د یوې ګوتې په اندازې سره واوسي.<br>2. په هر کاغذ باندې باید د لاندې شمیرو د ټولګو څخه یوه غوره کړي او پر کاغذ یې ولیکي: ۱۰۱ څخه تر ۱۳۰ پورې، یا د ۵۱ څخه تر ۸۰ پورې او یا هم د ۱۵۱ څخه تر ۱۸۰ پورې. (عر عدد باید ۳ ځله تکرار شي)<br>زده کوونکي کولی شي ښرخیدونکې ښرخه په لاندې ډول سره چمتو کړي:<br>1. د یوه دایروي شکل (لکه د یوې کاسې په واسطه) د ورقې په مابین کې یوه دایره باید جوړه کړي<br>2. هغه دایره باید پرې کړي<br>3. حلقه (دایره) په ۴ مربع شکلونو باندې باید د پنسل په واسطه تقسیم کړي.<br>4. په هر مربع شکل کې باید یو د لاندې کلماتو څخه ولیکي:<br>تکراري عدد، منځنی عدد، محدودي عدد، او اوسطي عدد<br><br> |
| **د پوهنې موضوع** | د معلوماتو مدیریت کول |
| **په نخښه شوي مهارتونه** | د تکرار، منځنې، اوسطي او محدودې عدد تمرین کول |
| **الهام اخیستنه** | Deceptively Educational |
| **د اړتیا وړ وخت** | د لوبې لپاره ۱۵ دقیقې<br>له ۲۰ څخه تر ۳۰ دقیقو پورې د سرچینو جوړولو لپاره |
| **پخوانیو زده کړو ته اړتیا** | د اوسطي، منځنې، تکراري او محدودې شمیرو په اړه پوهاوی<br>د ۳ عددیزه شمیرو د ویش، تفریق، او جمع کولو په اړه پوهاوی |
| **ملاتړ ته اړتیا** | منځنی ملاتړ |

د لوبې قوانين:

| | |
|---|---|
| **موخه** | د لوبې په پای کې تر ټولو د ډېرو نمرو ترلاسه کول. نمرې د هر پړاو په پای کې د ټولټال محاسبې له مخې ټاکل کیږي. د بیلګې په توګه، که چیرته لومړی لوبغاړی د تکراري ځواب عدد ۴ ، منځنی ځواب ۵ او د رینج (محدودي) خواب یې ۵ وي، نو د همدغه لوبغاړي ټولټال نمرې ۱۴ دي. |
| **قوانين** | 1. کله چې ۵ کارټونه ښکاره کړل شول، لوبغاړي ددې اجازه نه لري چې خپل کارټونه د ډیک له نورو کارټونو سره بدل کړي.<br>2. د حساب د ماشین کارولو اجازه نشته.<br>3. د عددونو د شمیرلو محاسبه کولو لپاره وخت محدود نه دی.<br>4. څرخونکی یواځې د یو ځل لپاره څرخول کیږي.<br>5. ناسمه محاسبه د نمرو کمولو لامل نه ګرځي. لوبغاړي تر ۲ ځله د سم محاسبه کولو فرصت لري.<br><br>دا لوبه د ۲ څخه تر ۳ لوبغاړو لپاره توصیه کیږي. |
| **مرحلې** | 1. ټول ۳۰ کارټونه له یوبل سره ګډوډ کړئ او په ۵ قطارونو کې یې مخ په شا کیږدئ. ((په هر قطار کې باید ۶ کارټونه واوسي)<br>2. په لومړي قطار کې باید لومړی لوبغاړی لومړی کارټ مخ پر بل واړوي (په همدې ترتیبه ۵ کارټونه باید ښکاره شي) د بیلګې په توګه ۱، ۴، ۴، ۵ او ۶<br>3. څرخونکی د څرخنده وسیلې په منځ کې ایښودل کیږي او څرخول کیږي.<br><br>4. هر هغې کلمې ته چې د څرخونکي خوله برابره شي، په هغې کلمې باید محاسبه (شمیرنه) ترسره شي. د بیلګې په توګه، که چیرته د څرخونکي خوله یا د قلم نوکه د تکراري عدد په لور واوسي، لوبغاړی باید د خپلو کارټونو به قطار کې ټول تکراري عددونه وشمیري.<br><br>5. لوبغاړی له دې څخه وروسته باید د ۱، ۴، ۴، ۵ او ۶ عددونو تکراري عدد محاسبه کړي او باید ۴ ترلاسه کړي.<br>6. لومړی لوبغاړی ۴ نمرې ترلاسه کوي او خپلې نمرې د نمرو په یوه ورقه باندې لیکي.<br>7. دا لوبه تر هغه تکراریږي ترڅو چې ۶ پړاوونه پوره شي.<br>8. هر هغه لوبغاړی چې د لوبو په ټولو پړاوونو کې تر ټولو ډېرې نمرې ترلاسه کړي، د لوبې ګټونکی دی. |
| **په لوبه کې بدلونونه** | ۱. دا لوبه د شمیرو د حد په زیاتولو سره لوبیدلی شي. د بیلګې په توګه: له ۱ څخه تر ۱۰ پرځای د ۱ څخه تر ۲۰ پورې. ددې فعالیت ترسره کولو لپاره تاسو ټولټال ډېرو کارټونو ته اړتیا لری او یو بل قطار باید اضافه کړئ. د بیلګې په توګه: ټولټال ۴۸ کارټونه او د ۸ کارټونه ۶ قطارونه.<br><br>۲. ناسمه محاسبه د انتخاب شوي پړاو د ټولټال نمرو څخه د ½ نمرو د کمیدو لامل ګرځي. |

| | |
|---|---|
| **غني کوونه** | تاسو کولای شی دا لوبه د عددونو د عملیو د امتحان لپاره ولوبوی. د بیلګې په توګه: لوبغاړي کولی شي لاندې نقطې په نظر کې ونیسي:<br>1. څرخوونکې چرخه د (+، -، × او د /) علامې لري.<br>2. په هر قطار کې د ۵ یا ۶ کارتونو پر ځای باید یوازې ۲ کارتونه شتون ولري.<br>3. هغه دوه شمیرې چې ښکاره شوې دي باید د هغو عددونو د عملیې لپاره وکارول شي چې د څرخیدونکې خوله ورته مخامخ شوي وي.<br>4. په عملیه کې باید د کارتونو ترتیب په پام کې ونیول شي.<br>5. د بیلګې په توګه: که چیرته یو لوبغاړی داسې یو قطار را پورته کړي چې د ۴ او ۹ کارتونه ولري، او څرخیدونکی د تقسیم عملیې لوري ته مخامخ شي، لوبغاړی باید پورتنی کارت (۴) د لاندې کارت (۹) باندې تقسیم کړي ترڅو لاندې عدد لاسته راوړي:<br>6. ۹/۴ = ۴۴،۰ |
| **ساده کوونه** | ۱. د ۵ کارتونو پر ځای ۳ یا ۴ کارتونه پورته کړئ. ددې فعالیت ترسره کولو لپاره، په کارتونو باندې د شمیرو حد کولی شی ۶ او ۸ ته را ښکته شي.<br>۲. لوبغاړي کولی شي د سم ځواب ترلاسه کولو لپاره څو ځله شمیرنه (محاسبه) وکړي. |